# مَنْ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ فَمَالَ إِلَى إِحْدَاهُمَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ مَائِلٌ». "څوک چې دوه مېرمنې ولري او له دوی څخه یوې ته مایل شي، هغه به د قیامت په ورځ په داسې حالت کې راشي چې یو مخ به یې لوېدلی (ځوړند) وي

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «مَنْ كَانَتْ لَهُ امْرَأَتَانِ فَمَالَ إِلَى إِحْدَاهُمَا، جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ مَائِلٌ». "څوک چې دوه مېرمنې ولري او له دوی څخه یوې ته مایل شي، هغه به د قیامت په ورځ په داسې حالت کې راشي چې یو مخ به یې لوېدلی (ځوړند) وي".

[صحیح دی] [أبو داود، الترمذي، النسائي، ابن ماجه او أحمد روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې له یوې څخه زیاتې ښځې ولري او له خپلو مېرمنو سره هغه ډول انصاف نه کوي کوم چې ممکن وي لکه: د دوی تر منځ په لګښت، د اوسېدو ځای، لباس او شپې تېرولو کې مساوات، نو د قیامت په ورځ به یې سزا دا وي چې نیم بدن به یې ځوړند وي، او کږېدل یا ځوړندېدل د هغه د ظلم سزا ده لکه څنګه چې دی په خپله تعامل کې یو طرف ته مایل و.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/58125

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee